د طعام پینځهٔ سنتونه

پښتو

شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ إِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے **اللہ** پاک په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بیروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

د رسالے نوم: **د طعام پيښځه سُنَّتونه**

اول ځل: ....

تعداد: ....

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمي وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

د طعام پينځه سُنَّتونه

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دامت برکاتهم العالیه دا رِساله "کھانے کی پانچ سُنّتیں" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چې مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

پيشکش:

مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگراں

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

Email: translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۭ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۭ

دا مضمون د "فيضانِ سُنَّت" صفحه 220 تا 242 نه اخستے شوے دے

د طعام پیىنځه سُنَّتونه

دعائے عطار! یا ربَّ الـمُصطفي! څوک چې دا رساله "**د طعام پیىنځه سُنَّتونه**" اولولي یا ئې واوري، هغه ته د خوراک څښناک، اُوده کیدو، بیداریدو وغیره هر کار د سُنَّتو مطابق د کولو توفیق ورکړې او هغه ته د مرګ په وخت کښې د خپل خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدار نصیب کړې او بےحسابه ئې اوبخښې. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د درود شریف فضیلت

حضرت ابودرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے:" څوک چې سحر ماښام په ما باندې لس لس ځله درود شریف لولي په ورځ د قیامت به زما شفاعت هغه ته ضرور رسیږي."

(الترغيب والترهيب، 261/1،حديث:29)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د ناستې یو سُنَّت

د **طعام** خوړلو د پاره د ناستې یوه سُنَّت طریقه دا ده چې ښئ ښپه نیغه اودروي او ګڅه ښپه راغونډه کړي او د پاسه پرې کښیني. او د ناستې یو بل سُنَّت هم شته دے. هغه دا چې **حضرتِ** سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: چې ما رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په څوهارو خوړلو اولیدو او حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زمکه داسې ناست وو چې دواړه زنګونان ئې ولاړ وو. (صحيح مُسلِم، ص1130، الحديث2044)

د زنګونانو اودرولو فائدے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دواړه زنګونان چې اودرولے شي او سُرِين [يعني مَقعد] اولګولے شي نو په قدر د ضرورت خوراك معدے ته ځي او د دې په وجه د مَرَضونو نه حِفاظت کيږي. او د طعام خوړلو په وخت کښې يوه ښپه نيغه اودرول او په بله ښپه د پاسه د ناستې د سُنّت په بَرَکت **د تورې د بيمارو** نه حفاظت کيږي او د ورنونو پټې مضبوطيږي. وائي چې: پرلت وهلو سره د خوراك عادت لرونکے **پيړيږي** او **خيټه** ئې غټيږي. او په پرلت وهلو طعام خوړلو سره د دردِ قولنج (د غټې کولمې د درد) خطره هم کيدے شي. د يو کس وينا ده چې ”ما يو **انګريز** اوليدو چې هغه دواړه زنګونان نيغ اودرولي وو او سُرِين ئې په زمکه لګولي وو او طعام ئې خوړلو، زه حيران شوم اود دې د سبب تپوس مې ترينه اوکړو، نو فوراً ئې په خپله بهرته راوتلې خيټه باندې لاس اووهلو او اوئې وئيل: ”د دې د دننه کولو د پاره.“

طعام او پرده کښې پرده

طعام خوړلو د پاره د سُنّت مطابق کښيناستلو والا اسلامي ورور او اسلامي خور ته پکار دي چې زنګونانو نه واخله د ښپو د پنجو پورې د څادر په ذريعه صحيح **د پردے د پاسه پرده** کوي. که د کُرتے [يا قميص] لمَن غټه وي نو هغه صحيح خوره کړئ او د پردے د پاسه پرده اوکړئ. د پردے د پاسه پرده نه کولو په وجه **مخامخ** ناستو کسانو ته بعضې وخت د نظر حفاظت کول ډير مشکل شي. په ځان له ځائے کښې هم **د پردے د پاسه پرده** کول پکار دي ځکه چې د **الله** پاک نه **حياء** کول د هر چا نه زيات حق لري. که دا نِيَّت اوکړئ چې د **الله** پاک نه حياء کووم نو اِنْ شَآءَاللّٰه د دې به ډير زيات ثواب اوګټئ او د نورو خلقو په موجودګئ کښې په پرده کښې د پرده کولو دا نِيَّت هم کيدے شي چې ”د مسلمانانو د پاره د بدنظرئ سبب لرې کووم.“ په هر کار کښې چې

خومره کيدے شي ښه ښه نِيَّتونه کول پکار دي، ښه نِيّتونه چې خومره زيات وي هغه همره به ثواب هم زيات حاصليږي. د **الله** پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دے: ”د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے“ (معجم کبير ج٦، ص١٨٥، حديث٥٩٤٢)

په ميز او کُرسئ طعام خوړل

اعلٰی حضرت، مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که په زمکه ناست، خپلو په ښپو د دې عُذر په وجه طعام خوري چې فرش (يعني درئ وغيره) نه وي نو بيا خو صرف يو سُنَّتِ مُستَحَبَّه پريښودل شو. او بهتره هم دا وه چې خپلئ ئې وِيستلے وے او که په ميز باندې طعام پروت وي او دا ئې په کُرسئ خپلو په ښپو خوري نو دا خاص د نصارئ [يعني عيسايانو] طريقه ده. د دې نه ځان لرې ساتل پکار دي او سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ

يعني خوك چې کوم قوم سره مشابهت [يو شان والے] پيدا کړي هغه د هم هغوئي نه دے.

(اَبُوداؤد ج٤ ص٦٢ حديث٤٠٣١)

د واده د بربادئ اسباب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! افسوس په کروړونو افسوس! نن صبا زمونږ مسلمانان تقريباً په هره مُعامَله کښې د يهود و نصارئ طريقے اختياروي. واده يقيناً خوږ سُنَّت دے خو افسوس چې د دې عظيم سُنَّت په ادا کولو کښې نور مُقَدَّس سُنَّتونه بلکه ډير فرائِض هم پريښودے شي. سندرې، سازونه، فلمونه، ډرامے، ورائِټي [ستيج] پروګرامونه او خُدائے خبر څه څه ګناهونه پکښې کيږي، د کور زنانه ښه په درَز ډولونه وهي، مَعَاذَالله، مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ ګډيږي هُم. آخِر هغه کوم حرام کار دے چې نن صبا زمونږ په ودونو کښې نه کيږي؟ مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ د نِکاح نه مخکښې هلك خپلې چنغلے

ته ګوتۍ په ګوته کوي، يو ځائے سيلونو له ځي، په واده کښې د بے حيائي نه ډك دعوتونه کيږي. غير سرې د ښځو وِيډيو جوړوي. د طعام دعوت هم په ميز او کُرسۍ وي بلکه اوس خو نوره ”ترقي“ شوې ده ځکه چې کُرسۍ هم لرې کړے شوې دي صرف په ميز باندې قِسم قِسم خوراکونه کيښودے شي او خلق د ميز نه ګير چاپيره تاويږي او په روانه خوراك کوي حالانکه داسې کول بالکل د سُنّت خِلاف دي. تاسو لږ سوچ خو اوکړئ چې ”آيا نن صبا په واده باندې کورونه آباديږي“ بلکه واده نه پس عام طور هر يو کس ”د خانه بربادۍ“ [يعني د کور ورانيدو] ژړاګانې کوي! چرې داسې خو نه ده چې د واده په شان خوږ خوږ سُنَّت کښې د غير شرعي رسمونو شاملولو په وجه په دُنيا کښې سزا ورکوله شي! او که **اللّٰه** پاک غضبناك شو نو د آخِرت سزا به څومره خوفناکه وي. **اللّٰه** پاک دِ مونږ ته د فِرنګي رواج او فيشن نه خلاصے راکړي او په سُنّتو د عمل کولو توفيق دِ رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د سُنّتو ډك تحريك دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره هر دم تړلي اوسئ، اِنْ شَآءَاللّٰه ډير ډير بَرَکتونه او خيرونه به حاصِل کړئ، يو مُبلِّغ دعوتِ اسلامي په دعوتِ اسلامي کښې د خپل شامليدو چې کوم اسباب بيان کړي دي هغه د اوريدلو قابِل دي، چنانچه د هغوئي جذبات په خپلو الفاظو کښې د بيانولو کوشش کووم،

زه په دعوتِ اسلامي کښې څنګه شامِل شوم

د **مَنډن** ګړه ضِلع رتناګري مهاراشټر (هِند) د يو اسلامي ورور بيان دے چې د 2002ء خبره ده، زه د غلطو دوستانو د صحبت په وجه **د بدمعاشانو په ډله** کښې شامِل شوم. خلق وهل ټکول او کنزلې کول زما معمول وو، قصداً به مې جګړے جوړولې،

چې کوم يو نوے فيشن به راتلو د ټولو نه مخکښې به ما کولو، په ورځ کښې به مې څو څو ځله جامے بدلولې، د جِينز (jeans) نه سِوا به مې بل پتلون نه اغوستو، لوفرانو دوستانو سره به ښه ډير ګرځيدم او د شپے به ناوخته کور ته راتلم او غرمے پورې به اوده پروت ووم. والِد صاحِب مې وفات شوے وو، کونډې مور به چې پوهه کولم نو مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ جوابونه به مې ورکول، يو ځل را له د دعوتِ اسلامي يو عِمامے [يعني پټکي] والا اسلامي ورور د ملاقات په دوران کښې (د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي) يوه رِساله د پيريانو بادشاه په تُحفه کښې راکړه، چې اومې لوستله نو ډيره مې خوښه شوه. په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې را ته يو جُمات ته د تللو سعادت نصيب شو نو اِتِّفاقي مې د شنے عمامے [يعني شين پټکي] او سپينو جامو والا يو سنجيده ځلمي باندې نظر پريوتو، چا را ته اووئيل چې دا دلته مُعتَکِف [يعني په اعتِکاف کښې ناست] دے. هغوئي د فيضانِ سُنَّت درس ورکولو نو زه هم د اوريدو د پاره کښيناستم، د درس نه پس هغوئي په ما اِنفِرادي کوشش اوکړو او د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول بَرَکتونه ئې راته بيان کړل. د هُغه اسلامي ورور لِباس [يعني جامے] دومره ساده وې چې په بعضې بعضې ځائے کښې پکښې پيوندونه لګيدلي وو، چې کله د هغوئي د پاره د کور نه طعام راغلو نو هغه هم بالکل ساده وو! زه د هغوئي د سادَګئ نه ډير زيات مُتاثِره شوم، هغوئي سره زما محبَّت پيدا شو او ما هغوئي سره ملاقات کولو د پاره تلل را تلل شروع کړل. اِتِّفاقاً د ورکوتي اختر نه پس د هغه اسلامي ورور نِکاح وه. هغه غريب بے وسه او تنګدسته وو خو د حيرانتيا خبره دا ده چې هغه د دې خبرې زما په مخکښې هيڅ ذِکر اُونکړو او نه ئې زما نه د مالي اِمداد د پاره څه سوال اوکړو، په دې وجه زه نورمُتاثِره شوم چې ماشآءَالله د دعوتِ اسلامي څومره ښکلے مَدَني ماحول دے او دې سره تَعَلُّق لرونکي څومره ساده او خود داره دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! ورځ په ورځ زما په زړه کښې د دعوتِ اسلامي محبّت زياتيدو تر دې چې ما عاشِقانِ رسول سره د اته ورځو مَدَني قافِله کښې سفر اوکړو. زما د زړه

دُنيا بدله شوه او په زړه کښې مې مَدَني اِنقِلاب راپورته شو او د ګناهونو نه مې پخه توبه اوکړه او خپل ځان مې دعوتِ اسلامي ته حواله کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زه په مَدَني رنګ کښې داسې رنګ شوم چې نن صبا د علاقائي مشاورت د **خادِم** (يعني نِګران) په حيثِيَّت په خپله علاقه کښې د **دعوتِ اسلامي** دِيني کارونو کولو کښې مصروف يم.

سادگی چاہئے عاجزی چاہئے　　آپ کو گر چلیں قافِلے میں چلو
خوب خود داریاں اور خوش اَخلاقیاں　　آیئے سیکھ لیں قافِلے میں چلو
عاشِقانِ رسول لائے سنّت کے پھول　　آؤ لینے چلیں قافِلے میں چلو

که غواړئ سادګي، که غواړئ عاجزي　　راځئ راځئ چې ځو قافلو کښې لا ړ شئ
ډيرې خود دارئ او خوش اخلاقئ　　راشئ راشئ زده کړئ قافلو کښې لا ړ شئ
عاشقانِ رسول، راوړو سُنّت د رسول　　ځئ چې مونږ هم ورځو قافلو کښې لا ړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اوليدل! د دِين د تبلِيغ د پاره استري شوے، ځيدلے لِباس او قط په قط ښکلے پټکے ضروري نه دے، په پيوندارو جامو او ساده عمامه کښې هم کار چليدے شي. . . . . . . چليدے نه شي بلکه منډې وهي. . . . . . منډې نه وهي، بلکه دهغې خو مَدَني وَزَري اوشي او د **مدينے منوّرے** طرف ته والوَځي! د ساده لِباس به څه وائي!

د ساده لِباس فضيلت

د **کُفَّارو** په شان فيشن کوونکي، هر وخت په ډول سِنګار کښې اوسيدونکي، د نوو نوو ډيزائِنونو والا قِسم قِسم جوړې شوي جامے اغوستلو والا که **سادګي** اختيار کړي نو په دواړو جهانو کښې به ئې بيړۍ پوريوځي. چنانچه د **ساده لِباس** اغوستلو فضيلت اولولئ او خوشحاله شئ.

تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: څوك چې د قدرت لرلو باوجود ښے جامے اغوستل، د تواضُع (یعني عاجِزئ) په طور پرېږدي **الله** پاک به هغه ته د کَرامت حُلَّه (یعني جَنَّتي لِباس) ور واغوندي. (اَبُوداؤد ج٤ ص٣٢٦، حدیث٤٧٧٨)

فیشن پرستو! خبردار!

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! خوشحاله شئ! چې څوك دولت لري، د ښه لِباس اغوستو طاقت هم لري خو بیا هم د اللّٰہ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ د رضا حاصلولو د پاره عاجِزي اختیار کړي او ساده لِباس اغوندي هغه به جَنَّتي لِباس اغوندي او ښکاره خبره ده چا ته چې جَنَّتي لِباس ورکولے شي هغه به یقیني طورجنَّت ته هم ځي. په خلقو باندې د رُعب اچولو،د مالدارو انداز اختیارولو او صرف د نفس خوشحالولو د پاره ښکلي،فیشني او ځلیدونکي لباسونه اغوستلو والا دِ اولولي او غمګین دِ شي.

د **حضرتِ** سیِّدُنا عبدُ الله بن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: ”که په دُنیا کښې چا د شُهرت [یعني د مشهورتیا] جامے واغوستلې، د قیامت په ورځ به **الله** پاک هغه ته د ذِلَّت لِباس ور واغوندي.“ (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج٤ ص١٦٣، حدیث ٣٦٠٦)

د شُهرت لِباس څه ته وائي؟

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي:یعني چې څوك داسې لِباس [یعني جامے] واغوندي چې خلق ئې مالدار اوګڼړي یا داسې لِباس واغوندي چې د هغې په وجه ئې خلق نیك او پرهیزګاره اوګڼړي، دا دواړه قِسم لِباسونه د **شُهرت** [یعني د مشهورتیا] **لِباسونه دي. غَرَض دا چې په کوم لِباس کښې ئې دا نِیَّت وي چې خلق د هغه عِزَّت اوکړي نو دا د هغه د پاره د شُهرت لِباس دے.** صاحِبِ مِرقاة رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: د نقلیانو [یعني د ټوقې ټقالو کوونکو] په شان لِباس اغوستل چې خلق پرې اوخاندي دا هم د شُهرت لِباس دے. (مُلَخَّص از مِراٰة ج٦ ص١٠٩)

خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو! واقعي سخت اِمتِحان دے، په لِباس اغوستو کښې د ډېر زيات غور کولو او د رياکارئ نه د بچ کېدلو سخت ضرورت دے او څوك چې خلق خپل عقيدت مند جوړولو د پاره ساده جامے او [ساده] پټکے او [ساده] څادر وغيره استعمالوي هغه رِياکار او د جهَنَّم حقدار دے. مونږ د **الله** پاک نه د اِخلاص خيرات غواړو.

مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو — کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی
رِیاکاریوں سے سیاہ کاریوں سے — بچا یاالٰہی بچا یاالٰہی
زما هر عمل دِ وي بس ستا د پاره — کړې اِخلاص داسې راعطا يا اِلٰهي
د ګنهګارئ نه، د رِياکارئ نه — بچ کړې بچ کړې ته ما يا اِلٰهي

د ډوَل سِنګار کولو والؤ د پاره د فِکر مقام

د **فيشن** پرستئ د پاره هره ورځ د نوي نوي طرز جامے اغوستلو والا، که فيشن لړ بدل شي يا جامے لږې زړے شي يا پکښې څه خائے معمولي غوندې اوشلېږي نو په **پيوند** اچولو کښې خپله بے عِزَّتي ګڼړلو والا دِ دا رِوايت بيا بيا اولولي: د **اَبُو** اُمامه اِياس بِن ثعلبه رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې تاجدارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ارشاد اوفرمائيلو: آيا تاسو نه اورئ؟ آيا تاسو نه اورئ؟ چې د جامے زړيدل د اِيمان نه دي، بيشکه د جامے زړيدل د اِيمان نه دي. (سُنَنِ اَبی داؤد حدیث ۴۱۶۱، ج ۴ ص ۱۰۲)

د دې رِوايت نه لاندې **حضرتِ** سيِّدُنا شاه عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: ”**زِينت** [يعني ډوَل سِنګار] پرېښودل د اهلِ اِيمان د اخلاقو (يعني بهترينو عادتونو) نه دي.“ (اَشِعَّةُ اللَّمعَات ج ۳ ص ۵۸۵)

د پيوندار لِباس فضِيلت

حضرتِ سَيِّدُنا عَمْرُو بِن قَيس رضی اللہ عنہ فرمائي چې د اَمِيرُ المُؤمِنِين **حضرتِ** سيِّدُنا عليُّ المُرتَضٰی رضی اللہ عنہ په خِدمت کښې عرض اوکړے شو، تاسو په خپل قميص کښې پيوند ولے لګوئ؟ هغوئي اُوفرمائيل: د دې سره زړه **نرم** وي او مُؤمِن د دې پيروي کوي. (يعني د مُؤمِن زړه نرم ېکار دے) (حِليَةُ الْاَولِياء ج ۱ ص ۱۲۴ حديث ۲۵۴)

په ولاړه خوراك كول څنګه دي؟

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رضی اللہ عنہ فرمائي: نبيءِ كريم صلی اللہ علیہ والہ وسلم په **ولاړه** د څښلو او په **ولاړه** خوراك كولو نه منع فرمائيلي دي." (مجمع الزوائد ج۵ ص۲۳ حديث۷۹۲۱)

په ولاړه د خوراك كولو طِبّي نقصانونه

د اِټلي د يو ماهِرِ خوراك ډاكټر وَينا ده، "په ولاړه باندې طعام خوړلو سره د **تورې** او د زړه بيمارئ او **نفسياتي مَرَضونه** پيدا كيږي تر دې چې كله كله انسان داسې **ليونے** شي چې خپل كسان هم نه شي پيژندلے."

په ښي لاس څښئ او خورئ

په **ښي** لاس خوراك څښاك كول سُنَّت دي. **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُ الله بِن عمر رضی اللہ عنہما فرمائي چې: د **الله** پاك خوږ حبيب صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد فرمائيلے دے: "چې كله څوك طعام خوري نو په ښي لاس دِ ئې خوري او چې اوبه څښي نو په ښي لاس دِ ئې څښي." (صحيح مُسلِم ص۱۱۱۷ حديث۲۰۲۰)

د شيطان طريقه

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله بِن عمر رضی اللہ عنہما فرمائي: حُضُورِ اكرم صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد فرمائيلے دے: "يو كس دِ هم نه په **كڼ لاس** خوراك كوي او نه دِ پرې څښل كوي ځكه چې په **كڼ لاس** خوراك څښاك كول د شيطان طريقه ده. (اَيضاً)

په ښي لاس اخلئ او وركوئ

د **حضرتِ** سَيِّدُنا ابُو هُريره رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې د مدينے **تاجدار** صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد فرمائي: "په تاسو كښې دِ هر يو په ښي لاس خوري او په ښي لاس

ښبي او په ښي لاس دِ اخلي او په ښي لاس دِ ورکوي ځکه چې شيطان په کڼ لاس خوري او په کڼ لاس ښبي او په کڼ لاس ورکوي او په کڼ لاس اخلي."
(ابنِ ماجه شريف ج٤ ص١٢ حديث٣٢٦٦)

په هر کار کښې کڼ لاس ولے؟

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! افسوس! نن صبا مونږه د دُنيا په مُعامَلاتو کښې دومره ګير شوي يو چې د **الله** پاک د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږو سُنّتو طرف ته مو هُم توجُّه نه وي. **ياد ساتئ!** په حديث مبارك کښې دي چې د انسان په رګونو کښې شيطان د وِينې سره ګرځي. (صحيح مُسلِم ص١١٩٧ حديث٢١٧٤) ښکاره خبره ده چې هغه به مونږه په سُنَّتو باندې عمل کولو ته ښنګه پرېږدي؟ اګر چې خلق په ښي لاس طعام خوري خو بيا هم په **کڼ لاس** څه نه څه دانے خُلې ته اچوي او د طعام خوړلو په وخت کښې ئې که ښے لاس ککړ وي نو اوبه په **کڼ لاس** ښبي که چائے ښبي نو کپ به ئې په ښي لاس کښې او پرچ په **کڼ لاس** کښې وي او چائے به ښبي، که په چا اوبه ښبي نو جګ ئې په ښي لاس کښې نيولے وي او ګلاس په **کڼ لاس** کښې او خلقو ته په **کڼ لاس** ګلاس ورکوي. "حياتِ مُحَدِّثِ اعظم" صفحه ٣٧٤ کښې دي، مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت مولانا محمّد سردار احمد قادري چشتي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: "په ورکړه راکړه کښې ښے لاس استعمالوئ، دا عادت مو چې داسې پوخ شي چې صبا را ته اعمال نامه راکولے شي نو د هم دې عادت مطابق مو ښے لاس ور وړاندې شي نو بيا خو به کار سم شي." خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! لږ سوچ اوکړئ، اوګورئ چې زمونږه خوږ خوږ مَکِّي مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په کڼ لاس خوراك ښباك کول څومره ناخوښه وو. چنانچه

ستا ښے لاس دِ کله هُم پورته نه شي

د **حضرتِ** سَیِّدُنا سَلَمَه بِن اَکوَع رضی اللہ عنہ نه رِوایت دے چې یو سړي د حُضُورِ اقدس صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم په **مخکښې** په کِڼ لاس طعام اوخوړلو نو حُضُورِ انور صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم ورته اوفرمائیل: ”په ښي لاس خوره.“ هغه اووئیل،زه په ښي لاس نه شم خوړلے. (په غیبو خبردار خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم پوهه شو چې دا د تَکَبُّر په وجه داسې وائي نو) نبئ غیب دان صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم اوفرمائیل: لَااسْتَطَعْتَ یعني ”تا ته دِ اِستِطاعت اُونه شي“ (مطلب دا چې ستا ښے لاس دِ کله هم پورته نه شي) هغه د تَکَبُّر په وجه په ښي لاس باندې د طعام خوړلو نه انکار کړے وو لِهٰذا بیا د هغه ښے لاس کله هم خُلې ته پورته نه شو. (یعني د هغه ښے لاس بیکاره شو) (صحیح مُسلِم ص۱۱۱۸ حدیث۲۰۲۱)

وہ زباں جس کو سب کُن کی کُنجی کہیں
اُس کی نافذ حُکومت پہ لاکھوں سلام

د شعر ترجمه: یعني د رَسُولِ عَرَبی صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم ژبه مبارکه د کُن (یعني د اوشه) کُنجي ده. [یعني چې څه فرمائي هغه کیږي] د هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم په قائِمه بادشاهئ دِ ډیر ډیر سلام وي.

ستا مخ دِ وران شي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د سرکارِ نامدار صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم د رښتینې ژبې مبارکې داسې شان دے چې څه به ئې فرمائیل، هغه به کیدل. د هغوئي صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم مرتبه خو ډیره عظیمه ده. د غُلامانو حال ئې اوګورئ، چنانچه یوے زنانه به مشهور صحابي **حضرتِ** سَیِّدُنا سَعَد بِن اَبِي وَقَّاص رضی اللہ عنہ پسې د کتلو د پاره سر راښکاره کولو، هغوئي رضی اللہ عنہ ډیر ځله منع کړه خو هغه نه منع کیدله. یوه ورځ چې هغې د خپل عادت مطابق بیا سر راښکاره کړو نو د هغوئي رضی اللہ عنہ د کرامتي ژبې مبارکې نه دا الفاظ اووتل، شَاهَ وَجْهُكِ یعني ”مخ دِ وران شه“ پس په هم هغه ساعت د هغې مخ د شا طرف ته واووښتو. (جامع کراماتِ اولیاء ج۱ ص۱۱۲)

محفوظ شہا رکھنا سدا بے ادبوں سے

اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو

د شعر ترجمه: یا رسُولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما همیشه د بے ادبو خلقو د شر او بے اَدَبئ نه بچ اوساتئ.

د حضرتِ سَیِّدُنا سَعَد بِن اَبِي وَقَّاص رضِیَ اللہ عَنۡہُ د مبارکې ژبې د قبلیدو دا تاثِیر هم په اصل کښې د الله پاک د خوږ محبوب صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا نتیجه وه ځنګه چې په جامع تِرمِذی وغیره کښې دي چې زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړه، اَللّٰهُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ اِذَا دَعَاكَ یعني "یا الله پاک چې کله هم سَعَد ستا نه دُعا کوي، ته ئې قبلوه." (ترمذی ج۵ ص۴۱۸ حدیث۳۷۷۲) مُحَدِّثِین کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی فرمائي: "سَیِّدُنا سَعَد بِن ابی وَقاص رضِیَ اللہ عَنۡہُ به چې کله هم دُعا کوله، قبلیده به." (جامع کراماتِ اولیاء ج۱، ص۱۱۳)

اِجابت کا سہرا عنایت کا جوڑا دلہن بن کے نکلی دعائے محمد صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم
اِجابت نے جھک کر گلے سے لگایا بڑھی ناز سے جب دعائے محمد صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د شعر مفهوم: د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکې ژبې نه چې کومه دُعا اوځي هغه داسې قبلیږي چې قبولیت هغې له پخپله غاړه ورکوي.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د صحابهٔ کرامو رضِیَ اللہ عَنۡہُم هم ډیر لوئې شان دے او د صحابه رضِیَ اللہ عَنۡہُم غُلامان یعني اولیاء رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی هم ډیر عَظَمت لري چنانچه

یا الله! صَباحِي روند کړې

زبردست عالِم او مُحَدِّث حضرتِ سیّدُنا عبدُالله بِن وَهُب رَحمَةُ الله عَلَیه د یو لاك حدیثونو حافِظ وو، د مِصر حاکِم عُبّاد بِن محمّد هغوئي قاضي جوړول غوښتل نو د قاضي د عُهدے نه چرې پټ شو. یو حاسِد "صَباحِي" د دروغو چُغلي اوکړه او وئیل ئې چې ما ته عبدُالله بِن وَهُب پخپله د قاضي جوړیدو حِرص ښکاره کړے وو او اوس پټ شوے دے قصداً ستاسو نافرماني کوي." حَاکِم غُصّه شو او د هغوئي رَحمَةُالله عَلَیه کور ئې وران کړو. حضرتِ سیّدُنا عبدُالله بِن وَهُب رَحمَةُالله عَلَیه په جَلال کښې راغلو او د الله رَبُّ العِزَّت په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: یا اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ! صَباحِي روند کړې. چنانچه په

اتمه ورځ صباحي روند شو. حضرتِ سيّدُنا عبدُالله بِن وَهْب رحمۃُاللہِ علیہ باندې به د الله پاک د ويرې ډېره غَلَبه وه. يو ځل ئې د قِيامت تذكِره واوريدله او سخته ويره پرې راغله او بے هوشه شو. په هوش كښې راتلو نه پس صِرف يوڅو ورځې ژوندے وو او په دې دوران كښې ئې هيڅ خبره هم اُونكړه او په ۱۹۷ھ كښې وفات شو. (تَذْكِرَۃُالحُفّاظ ج۱ ص۲۲۳) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اَولیاء کا جو کوئی ہو بے ادَب
نازل اُس پہ ہوتا ہے قہر و غضب

د اولِياؤ چې څوك وي بے ادب نازليږي په هغه قهر و غضب

يا ربِّ مُصطفٰی عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او د اولِياء عِظام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی رِښتينے ادب رانصيب كړې، د دوئي د بے ادبئ او د بے ادبو د شر نه مو هميشه په حفاظت كښې اوساتې او د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتيني عاشقان مو جوړ كړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یارب میں ترے خوف سے روتا رہوں ہر دم
دیوانہ شَہنشاہِ مدینہ کا بنا دے

يا ربه! ژړا غواړم ستا له ويرې هميشه عاشِق مې كړې د خوږ خوږ مَدَني ښكلي آقا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د صاحِبِ مزار اِنفِرادي كوشش

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول كښې د بُزرګانو ډېر ادب كيږي، بلكه رښتيا خبره دا ده چې د اَللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت په فضل دعوتِ اسلامي د اولياءِ كرامو په بَرَكتونو چليږي. چنانچه يو اسلامي ورور د يو صاحِب مزار [يعني وفات شوي] بُزُرګ رحمۃُاللہِ علیہ د مَدَني قافلے د پاره د اِنفِرادي كوشش ايمان تازه كوونكے واقِعه بيان كړې وه، هغه واقعه په خپل انداز كښې وړاندې كووم،

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! د **عاشقانِ رسول** يوه مَدَني قافِله د **چکوال** (پنجاب، پاکستان) نه مُظَفَّر آباد او د هغې خوا و شا کلو ته د سُنّتو د سپرلو خوررولو د پاره راغلي وه او د سفر په دوران کښې يو مُقام ''انوار شريف'' ته اورسيدله، د هغه ځائے نه خلور اسلامي ورونړه **سمدستي** د درې ورځو **مَدَني قافِلے** د پاره عاشقانِ رسول سره شريك شول، په هغه څلورو کښې يو د ''انوار شريف'' د **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بُزُرگ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د اولاد نه يو کس هم وو. **مَدَني قافِله** د نيکئ دعوت عام کولو کولو کښې ''کړهي دوپټّه'' ته اورسيده. چې کله د ''انوار شريف'' والؤ درې ورځې پوره شوې نو د هغه **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بزرگ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د اولادے هغه کس اووئيل چې زه خو بيرته نه ځم، ځکه چې نن شپه ما په خوب کښې خپل ''حضرت'' رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوليدلو او ما ته ئې اُووئيل چې بيرته کور ته مه ځه، مَدَني قافلے والؤ سره نور مخکښې هم سفر جاري ساته.'' د زيارت د هغه بزرگ رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د **اِنفِرادي کوشش** دا واقعه ئې چې واوريدله نو مَدَني قافِلے والا ډير خوشحاله شو، د ټولو حوصلے نورې هم اوچتې شوې او د انوار شريف هغه څلور واړه اسلامي ورونړه سمدستي مَدَني قافلے سره نور مخکښې په سفر روان شو.

دیتے ہیں فیض عام اَولیائے کرام لوٹنے سب چلیں قافلے میں چلو
اولیا کا کرم تم پہ ہو لاجرم مل کے سب چل پڑیں قافِلے میں چلو

ورکوي فيضِ عام، اولياءِ کِرام ځئ چې حاصِل ئې کړو، قافِلو کښې لاړ شئ
د اولياؤ بَرَکتونه، هم به کيږي رحمتونه ځئ چې ټول لاړ شو، قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د خوب په ذريعه د اَسپې تُحفه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د کوم يو ولِـيُّ الله له طرفه د وفات نه پس په خوب کښې اِمداد کول څه د **حيرانتيا** خبره نه ده، د **الله** پاک نيک بندګان د ربّ عَزَّوَجَلَّ په ورکړه ډير څه کولے شي چنانچه خواجه اِمير خرد کِرماني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکي چې سلطانُ ا

لَمَشائِخ **حضرتِ** سيِّدُنا محبوب اِلٰهی نِظامُ الدِّين اولياء رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہِفرمائي: په غِياث پور كښې اوسيدو نه مخكښې به زه تقريباً درې كِلوميټره لرې د **كيلوكهري** [علاقې] جُمات ته د جُمُعې د لـمانځه د پاره تللم. يو ځل هم دغسې پياده د جُمعې د لـمانځه د پاره روان ووم، توده هوا لګيدله او زما روژه وه، په ما سر اوګرځيدو او د يو دُكان خوا ته كښيناستم. زما په زړه كښې خيال راغې چې كه زما سره څه سورلئ وے نو سهولت به راته وو. بيا د شيخ سعدي دا شعر زما په ژبه راغې.

ما قَدَم اَز سَر کُنِیم دَرطَلَبِ دوستاں
رَاہ بَجائے بُرد ھر کہ بَاقدام رَفت

(مونږه د دوستانو [د رضا] حاصلولو د پاره د ښپو په ځائې په سر ځُو، ځكه چې څوك په دې لاره په ښپو ځي، هغه منزِل ته نه شي رسيدلے)

زما په زړه كښې چې د سورلئ كوم خيال راغلے وو ما د هغې نه توبه اوكړه. د دې واقعې درې ورځې پس "خليفه مَلِك يار پران" زما د پاره يوه اَسپه راوستله او وئيل ئې چې د درې شپو نه مسلسل په خوب كښې وينم چې زما شيخ [يعني پير صاحِب] ما ته فرمائي چې "فلانكي صاحِب ته اَسپه وركړه." لِهٰذا! اَسپه حاضِره ده، قبوله ئې كړئ. ما ورته اووئيل چې بے شكه ستاسو شيخ به تاسو ته فرمائيلي وي خو چې تر څو پورې زما شيخ ما ته نه وي فرمائيلي تر هُغے زه دا اسپه نه اخلم، هم هغه شپه ما خوب اوليدو چې زما پير و مُرشِد **حضرتِ** سيِّدُنا شيخ فريدُ الدِّين ګنج شكَر رَحْمَۃُاللّٰہِعَلَیْہِما ته فرمائي چې د خليفه مَلِك يار پران د زړه خوشحالولو د پاره هغه اَسپه قبوله كړه. په دويمه ورځ بيا هغه اَسپه راوسته نو ما د **الله** پاک عطا اوګڼړله او قبوله مې كړه. (سِيَرُ الْاَوْلِیاء ص۲۴۶)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

صرف خپلې مخې نه خورئ

چې په **يو لوښي** كښې صرف د يو قِسم طعام وي نو خپلې **مخې** نه طعام خوړل سُنَّت دي. چنانچه **حضرتِ** سيِّدُنا عُمَر بِن اَبِي سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې زه لا ماشوم ووم او

تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مې پالنه كوله. (دا د اُمُّ الْمُؤمِنِين سيّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نِكاح كښې راتلو نه مخكښې د پخواني خاوند نه شوے ځوئي وو) د طعام خوړلو په وخت كښې به مې په لوښي كښې هر طرف ته لاس وهلو. تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: بِسْمِ الله اولوله او په ښي لاس خوره او د لوښي هغه طرف نه خوره كوم چې تا ته نِزدے دے. (صحيح بُخاری ج٣، ص٥٢١، حديث٥٣٧٦)

د مينځ نه مه خورئ

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے، نبئِ كريم، رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: بے شكه بَرَكت د طعام په مينځنئ حِصّه كښې راكوزيږي پس تاسو د غاړو نه طعام خورئ او د مينځ نه مه خورئ." (تِرمِذی ج٣ ص٣١٦، حديث ١٨١٢)

تاسو چرې د مينځ نه خو طعام نه خورئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! غور اوكړئ چې په دې سُنَّت تاسو عمل كوئ او كه نه؟ ما ډير ځل ليدلي دي چې اكثر باعمله ښكاريدو والا هم په دې سُنَّت باندې د عمل كولو نه محرومه دي! چا ته چې ګوري د طعام د ركيبئ يا لوښي د مينځ نه شروع كوي. معلومه نه ده چې دا ولے؟ چرې داسې خو نه ده چې د بَرَكت نه محرومه كولو د پاره ئې شيطان لاس نيسي او مينځ له ئې وروړي! حقيقت دا دے چې شيطان د دې خبرې په كوشش كښې وي چې مسلمان د نيكئ نه محرومه شي. **مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:"د طعام د لوښي په مينځ كښې د **الله** پاک رحمت نازليږي، د مينځ نه خوراك كول د حِرص نښه ده،حَرِيص[يعني حِرص كوونكے]د **الله** پاک د رَحمت نه محرومه دے." د دې حديثِ مباركه نه معلوميږي چې د مسلمانانو د طعام خوړلو په وخت كښې هم رَحمتِ اِلٰهی نازليږي خاص طور چې كله د سُنَّت په نِيَّت خوراك اوكړے شي. (مِراٰةُ شرحِ مِشكوٰة ج٦ ص٣٣، ٣٤)

نور خلق د شرمِنده کيدو نه بچ کړئ

حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې د نبيانو سلطان صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم فرمائي: چې کله دسترخوان خور کړے شي نو هر کس دِ د خپلې خوا [يعني مخې] نه خوري او د ځان سره خوړلو والؤ د مخې نه دِ نه خوري او د رکيبئ [يعني لوښي] د مينځ نه دِ نه خوري (ځکه چې بَرَکت هم د هغه طرف نه راځي) او هيڅ څوك دِ هم د دسترخوان اوچتولو نه مخکښې نه پاڅي او نه دِ خپل لاس اودروي تر څو چې ټولو خلقو لاس نه وي اودرولے اګر که موړ شوے وي د نورو خلقو سره دِ لګيا اوسي ځکه چې د ده بس کول به د نورو خلقو د شرمِندګئ باعِث وي او هغوئي به خپل لاسونه اودروي حالانکه کيدے شي چې هغوئي ته لا اوس د نور خوراك کولو حاجت وي. (شُعَبُ الْاِیمان ج۵ ص۸۳ حديث۵۸۶۴)

په مينځ کښې د بَرَکت وَضاحت

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د لوښي د غاړې او خپلې مخې نه خوراك کوئ، د مينځ نه مه خورئ ځکه چې په مينځ کښې **بَرَکت** راکوزيږي او د هُغه ځائے نه غاړو ته رَسي، که تاسو د مينځ نه خوراك کول شروع کړل نو هسې نه چې هلته **بَرَکت** نازِليدل بند شي. غرض دا چې د **بَرَکت** د راکوزيدو ځائے بل دے او د **بَرَکت** اخستو ځائے بل دے. (مِراٰة ج۶ ص۶۳)

د طعام پيىنځه سُنَّتونه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په بيان شوي حديث مُبارك کښې د طعام خوړلو پيىنځه سُنَّتونه بيان کړے شوي دي. ﴿۱﴾ د خپلې مخې نه خورئ ﴿۲﴾ چې څوك درسره يو ځائے خوري د هغه د مخې نه مه خورئ ﴿۳﴾ د رکيبئ [يعني لوښي] د مينځ نه مه خورئ ﴿۴﴾ مخکښې دِ دسترخوان اوچت کړے شي د هغې نه پس دِ طعام خوړلو والا پاڅي. (افسوس نن صبا مُخالِف انداز دے يعني مخکښې خلق پاڅي د هغې نه پس دسترخوان

اوچتوي) ﴿۵﴾ كه نور خلق هم ورسره په [په يو دسترخوان] خوراك كښېي شامِل وي نو د هغې پورې دِ لاس نه اودروي تر څو چې ټول د خوراك نه بس نه كړي. افسوس! چې د طعام په بيان شوو سُنَّتو باندې عمل كوونكي اوس د سره ښكاري نه. د سُنَّتو زده كولو او د خلقو په مخكښې په سُنّتو باندې عمل كولو كښې د شرم محسوسولو عادت ختمولو د پاره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت مَدَني قافلو كښې سفر اوكړئ او هلته د دې سُنّتونو باقاعده تربِيَّت واخلئ. اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى مَدَني قافلو كښې د سفر په بَرَكت به په سُنَّتو باندې عمل كول ډير آسان شي.

د ويرې د خوبونو نه خلاصے

د مَدَني قافِلو د بَرَكتونو به څه وائي! ديو اسلامي وررور د بيان خُلاصه ده چې ما به ډير سخت ويرۈونكي **خوبونه** ليدل. ما د عاشقانِ رسول سره د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت د يوے مياشتې **مَدَني قافِله** كښې د سفر كولو سعادت حاصِل كړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د مَدَني قافلے په بَرَكت مې ويرَوونكي **خوبونه** ليدل بند شو، ما په خوب كښې خوږه مدينه اوليدله او وس په خوبونو كښې كله ځان په لمانځه كولو وينم او كله په تِلاوت كولو.

خواب میں ڈر لگے بوجھ دل پر لگے | خوب جلوے ملیں قافِلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافِلے میں چلو | پاؤگے راحتیں قافِلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب | صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وررونړو! د شپے اوده كيدو وخت كښې كه يَامُتَكَبِّرُ يوويشت ځله د اوَّل او آخِر يو يو ځل درود شريف سره لولئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د ويرې خوبونه به نه وينئ.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

نيك او لـمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لـمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کېدونکي **د دعوتِ إسلامي** د سُنّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے إلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❀ د سُنّتو د تربيت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د **"فِكرِ مَدينه"** په ذريعه د **مَدَني إنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي."** إن شآءَ الله عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. إن شآءَ الله عَزَّوَجَلَّ



فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ الـمدينه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com